# طبیعي سیمې

ځمکه د شمسي نظام له سیارو څخه یوازینۍ پېژندل شوې سیاره ده چې په هوا ، ځمکه او سمندر کې ژوند امکان لري. دا ځایونه د بایوسفیر په نامه یادیږي. بایوسفر په مختلفو بایومونو ویشل کیږي.بایومونه د یوخاص اقلیم لرونکې او مشخصه طبیعي سیمې ته وایی چې د نباتاتو ژوند، باران او تودوخې پکی یو شان وي. بایومونه په لویو ساحو او ډیرو قارو غزیږی.

دا متن په ځمکه کې د ځینې بایومونو په اړه دی.

## ټندرا

ټندرا لوی ساحې دي چې ځمکې یی د کال په اوږدو کې منجمده وي. یوازې د ځمکې پورتنۍ طبقه په اوړي کې ګرمیږي. ونې په تونډرا کې وده نه کوي. ډیری ټندرا ساحی په روسیه ، کاناډا او الاسکا کې موقعیت لري.



*Foto: Tundra i Nord-Russland (Adobe Stock, annatronova).*

# صحرا

بیدیا ،دښته یا صحرا ، وچو سیمو ته ویل کیږي جی ډیری ډېری او شګی لرې. صحارا د ځمکی په سر ترټولو لویه دښته ده.



*Foto: Saharaørkenen i Nord-Afrika (Shutterstock, Gaper).*

# ساوانا

ساوانا د حاره یا تودو سیمو په اوږدو کې د ځګو وابنو او متفرقه ونو درلودونکی ساحه ده. ډیری لوی سوانا سیمی په افریقا کې موقعیت لري.



*Foto: Savanne (Adobe Stock, 25ehaag6).*

# جلګه یا دښتې

جلګه یا دښته هغه ازاده سیمه ده  چې ځنګلونه په کې نه شته. د جلګو خاوره ډیره قوی ده او له دې کبله په نړۍ کې د جلګو لویې ساحې د کرنې لپاره کارول کیږي. جلګی یا دښتې په معتدلو سیمو لکه اسیا، شمالی او سویلي امریکا کې پیدا کیږي.



*Foto: Steppelandskap i Tyrkia (Adobe Stock, Engin Korkmaz).*

# باراني ځنګلونه

باراني ځنګلونه هغه حاصل خېزه ځنګلونه دي چې عموماً د استواکرښې سره د ځمکی چارچاپیر خپریږي.. امازون په سویلي امریکا کې بارانی ځنګل دی.



*Foto: Regnskog i Sørøst-Asia (Adobe Stock, quickshooting).*

# سم ځواب غوره کړئ.

1. هغه سیمه چی د نباتاتو ژوند، حرارت او باران یې یو شان دی او بدلون نه مومي څه نومیږي ؟

الف. بایومونه ب. بایوسفر ج. ټوندرا

2. هغه لوی حاصل خیزه ځنګل چې د استوا کرښې ته نږدې د ځمکی چارچاپیر غزیږی، څه نو میږي؟

الف. ستیپ ب ټندرا ج. بارانی ځنګل

3. هغه لویه او وچه سیمه چې ډیری ډبرې او شګې لري څه نومیږي؟

الف.صحرا ب. جلګه ج. ساوانا